


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# انجینر محب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیټه : 23 می 2015 م

# ترکله

د اور په سرو لمبو کي به کړیږمه تر کله
د غم لویو ځپو کي به ډوبیږمه تر کله

لالحنده سرګردان ګرځم هجرت کی
د پردیو په کوڅو کي به ورکیږمه تر کله

دا زه دي هم بنده یم خدایه رحم کړه
د هجران په ټال غمو کي به زنګیږمه تر کله

هر ځاي راته پردي دي هر خوا دلته پردی وینم
پردی پردی ملکو کي به ځوریږمه تر کله

وژنم او وراني کړم د پردی په خوله
د بل چا په نغمو کي به ګډیږمه تر کله

وطن ته می زړه کیږی ورته تلی نشم
د پردی ملک هدیرو کی به ښخیږمه تر کله

****

انجینر محب الرحمن « خطیبی »

www.said-afghani.org بازگشت به صفحه اصلی